AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سردار محمد همدرد ۲۰۱۸/۱۰/۲۷

# سولې په اړه، وړاندیزونه!

سوله د الله ج لوی نعمت دی،او د اسلام مبارک دین د سولې لپاره لوی پیغام لري، موږ په غني افغانستان کې هر څه لرو، هم باتوره ملت لرو، هم طبعي زېرمې لرو، او هم پراخې ځمکې او خوږې اوبه، بس یو د سولې کمبود دی.

موږ په نړی کې داسې یو ملت یو چې اوږده ځلوېښت(۴۰)کلنه جګړه تېرووو!
په دا وروستیو کې د سولې په اړه، هم په کور دننه ، او هم په نړیواله کچه د سولې لپاره ملي اجماع رامنځ ته شوې ده.

حالاتو ته په کتو سره، دا د دائمي سولې ته د راتلو لپاره بهترین وخت دی.
زه د یو افغان په صفت حکومت ته دا مشوره ورکوم، چې د سولې لپاره هرې قربانۍ ته باید تیار شي، جګړه په جګړه د افغان سره د افغان څخه نه ګټل کیږي!

موجوده مسولین که دا کار وکړي، دوی به د دې وطن ډېر ښاغلي خلک يي.
وسلوال افغان طالبانو ته هم همدا وایم، چې دوی هم دا جګړه په جګړې نشي ګټلای، بس دی! پر دې کونډو او یتمانو رحم پکار دی، نو تر ټولو ستر ثواب دا دی چې د دې کونډو او یتمانو پالنه وکړو ، ملت چې په نس وږی دی ډوډی ورکړو .

خبرې باید بین الافغاني چوکات کې وشي، د نړۍ مرسته کوونکي هیوادونه چې د ناټو په چوکاټ کې دي، په خاص ډول ملګري ملتونه، او متحده ایالات امریکا ، ټول باید د سولې د پروسې ټینګ ملاتړ وکړي، او د دې تر څنګه په هیواد کې د سولې آرمانجن شخصیتونه هم مسولیت لري، چې د سولې په اړه هڅې وکړي، او د سولې د شورا سره دې په ګډه کار وکړي.

د سولې لپاره یواځې د سولې شوراْ مسؤلیت نلري، دا کار ډېر لوی قیمت لري، بلکې دا د ټولو ګډ مسولیت دی!
لومړی باید ټولې هڅې په بې طرفانه ډول پیل شي.

د نړیوالو دیپلوماتیکو اړیکو لپاره د قطر دفتر او د دې تر څنګ له پاکستان څخه د طالبانو ټول مشران او غړي دی، د افغانستان یو ولایت ته انتقال شي، د ټولو په توافق دې یو ولایت د سولې ولایت اعلان شي، او هلته دې د هر ډول جګړې مخ ونیول شي، دا دې د سولې داخلي ادرس وي، مخامخ دې خبرې پیل شي، حکومت دې هم خپل وړاندیزونه وړاندې کړي، او طالبان دې هم خپل وړادیزونه ووایي، د ځینو خبرو دې حکومت تیر شي، او د ځینو دې طالبان، نتیجه ګیرې دې را ؤ وځي.

نړیواله ټولنه او ملګري ملتونه دې هم ملاتړ اعلان کړي، او په کور دننه دې هم ټول سیاسیون دې کار ته لبیک ووایي، همسایګان او هم هغه هیوادو نه چې د سولې مخالفت کوي، ملګري ملتونه او نړیواله ټولنه باید هغوی مجبور کړي چې سولې ته غاړه کیږدي، په صداقت دې ټوله پروسه مخ ته ویوړل شي.

په پای کې بیا د یو دردېدلي افغان په حیث ټولو ښکېلو اړخونو ته خواست کوم، چې راځئ د انسانیت او بشر دوستۍ پر بنیاد پر دې مظلومو افغانانو رحم وکړو، دا ملت نور یوه ورځ هم د جګړې تاب نلري.
د تل پاتې سولې په هیله!

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ